مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهولی ارین ۲۰۲۶/۱۱/۰۸

د مخدره توکو کر، تولید او استعمال

(څلورمه‌برخه)



د ځینو راتولو شوو معلوماتو له مخې رسمي شمېرې ښیي چې په افغانستان کې شاو خوا د نورو روږدو کسانو تر څنګ شل زره ماشومان په مخدره توکو روږد دي، چې دا شمېره ورځ تر بلې د زیاتیدو په حال کې دي، بله خوا، ملګرو ملتونو هم اعلان کړی چې په افغانستان کې د کوکنارو کر کیله باید د جدي کنترول لاندې ونیول شي او د دې ترڅنګ طالبان هم د دغې بدمرغه پدېدې د له منځه وړلو په هکله جدي دي.

د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو پر وړاندې د مبارزې دفتر وایي چې په افغانستان کې لا هم دودیز مخدره توکي تر ټولو ډېر کارول کېږي. د دې اداري د نوي ارزوني له مخې، د افغانستان د نارینه‌وو تر منځ د چرسو د کارونې کچه(۴۶) سلنه، د تریاکو(۱۹) سلنه، ټابلېټ K (۱۱) سلنه او د مېتامفېټامین یا شیشي(۷) سلنه ده. د راپور له مخې، د مخدره توکو د کارونې بڼه لا هم تر ډېره د دودیزو موادو تر واک لاندې ده، خو ورسره هممهاله د صنعتي مخدره توکو کارونه او د افیوني درملو ناوړه استعمال د زیاتېدو په حال کې دی. دا نوي ارزونه په داسې حال کې خپرېږي چې طالبانو څو ځله ادعا کړې ده چې په افغانستان کې یې د مخدره توکو کر، تولید او قاچاق په بشپړ ډول له منځه وړي دي.

ملګرو ملتونو تر دې وړاندې تاییدې کړې وه چې د مخدره توکو کر کم شوی، خو د صنعتي مخدره توکو کارونه نړیدي(۵۰) سلنه زیاته شوې ده. دغه راز دا اداره وایي چې څېړنې ښیي د دغو کسانو له‌پاره د درملنې د خدمتونو د وېش، لاسرسي، کیفیت او د جنسیتي پوښښ په برخه کې لا هم جدي تشې موجودي دي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

افغانستان کې د نشه يي توکو د استعمالولو په اړه تازه سروې نه ده شوې، خو په دغه هيواد کې د نشه يي توکو د استعمال په باب يوه سروې چې په(۲۰۱۴)کال کې شوې ښيي چې په دغه هيواد کې په نشه يي توکو د روږدو کسانو شمير دري ميليونو ته لوړ شوی وو.

دا سروې چې د امريکا متحده ايالاتو د بهرنيو چارو په وزارت کې د قانون د تېنګښت د اداري په مرسته شوې ښيي چې د (۲۰۱۲)او(۲۰۱۴) کلونو په موده کې په افغانستان کې تر يو نيم ميليون پورې نوي کسان په مخدره موادو روږدي شوي وو.

خو د طالبانو د حکومت د رياست الوزرا اداري مرستيال ملا عبدالسلام حنفي په پرله پسې ډول په خپلو ځرګندونو کې په افغانستان کې په نشه يي توکو د روږدو کسانو شمير نږدې پنځه ميليونه ښودلی او ويلي يې دي چې ددغه شمير يو ميليون يې ښځې او ماشومان دي.

د طالبانو د حکومت د عامې روغتيا وزارت وايي چې اوس مهال د افغانستان په بېلابېلو ولايتونو کې د معتادينو د درملنې(۱۱۰) مرکزونه فعال دي چې د ماشومانو او ښځو په ګډون په کې په نشه يي توکو د روږدو کسانو درملنه کيږي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندويه پلاوي دفتر"يوناما" د نشه يي توکو او ورځخه د ناوړې کار اخيستنې او غيرقانوني نشه يي توکو د قاچاق د نړيوالې ورځې په مناسبت په يو پيغام کې ويلي چې د يو او دوو ميليونو ترمنځ افغانان په نشه يي توکو روږدي دي چې ۳۵ فيصده يې ښځې دي.

يومانا د جون په ۲۶ مه د ايکس په ټولنيزه شبکه کې د کابل د جنګلک په سيمه کې په نشه يي توکو د روږدو د درملنې له يو روغتون څخه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د ځانګړې استازي او د يوناما د مشرې د ليدنې يوه لنډه ويډيو هم خپره کړې ده.

د جنګلک په سيمه کې په دې روغتون کې د اوږدو کلنو راهيسې په نشه يي توکو باندې د اخته کسانو درملنه کيږي. يوناما ويلي چې په افغانستان کې د طالبانو د بيا واکمنيدو وروسته، ددې سره سره چې د اپينو په توليد کې(۹۵)فيصده کموالی راغلی، خو لا هم په دغه هيواد کې د يو ميليون څخه تر دوو ميليونو پورې کسان چې ۳۵ فيصده يې ښځې دي نشه يي توکې کاروي.

نوربيا

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ